TRANSLATION DEPARTMENT
(DAWAT-E-ISLAMI)

هفته واره رساله

دخبرو کولو فتنې

(دامیر اهلِ سُنّت دکتاب "دخبرو کولو آداب" نه اتم قِسط)

- خبرې هم ډېرې، خطاګانې هم ډېرې
- د قبر د وحشت نه بچ کوونکے عمل
- د لقمان حِکمت څه دے؟
- درې سوډانیان هم د جنتیانو سردار ان

شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرت علامہ مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

د خبرو کولو فِتنې (1)

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د خبرو کولو فِتنې " ولولي یا واوري هغه د ژبې د فتنو نه بچ کړې او په دُنیا او په اخرت کښې یې خپرونه نصیب کړې، هغه سره د مور او پلاره او خاندانه بے حسابه وبخښې- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د دُرُود شریف فضیلت

صحابي مصطفٰے حضرت جابِر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خپل والدِ محترم حضرت سَمُرَه سُوَائي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې مونږ د سرکارِ عالي وقار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دربار مبارک کښې موجود وو چې یو ګس حاضر شو او عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د الله پاک په دربار کښې د ټولو نه ښه عمل کوم یو دے؟ نو د الله پاک محبوب، سرورِ انبیا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائیلو: " ربنتیا وئیل او امانت ادا کول-" (د حدیث راوي حضرت سَمُرَه

---

1 . . . دا مضمون د امیر اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د کتاب " د خبرو کولو آداب " صفحه 104 نه 115 پورې نه اخستلے شوے دے۔

رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي:) ما عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! نور څۀ هم اِرشاد کړئ! وه يې فرمائيل: ” دېر ذِکر کول او پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل چې دا عمل فقر (يعني غريبي) لرې کوي-“ (القول البدیع، ص 273 مختصراً)

بہرِ رَفعِ مَرَض وزَحمت ورَنج وکُلفت ڈھونڈتے پھرتے ہیں وہ لوگ کہاں کا تعویذ

تم پڑھو صاحبِ لولاک پر کثرت سے دُرُود ہے عَجَب دردِ نہاں اور اَماں کا تعویذ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د ژبې افتونه ډېر زيات دي

صحابي رسول حضرت سيِّدُنا عبد الله ابنِ مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائيلي دي چې ژبه د هر څيز نه زيات پۀ قابو کښې د ساتلو ضرورت دے، (معجم کبیر، 149/9) (ځکه چې د ژبې افتونه ډېر زيات دي) د انسان پۀ سر د ګناهونو پيټې بار کولو کښې د بدن پۀ ټولو اندامونو کښې د ژبې کردار د ټولو نه زيات دے- د ګناهونو نه د ټولو اندامونو بچ کول ضروري دي خو (د نورو اندامونو پۀ مقابله کښې) د ژبې خيال ساتل او پۀ دې باندې قابو موندل د ټولو نه اهم او ضروري کار دے-

عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ سلکو سلکو وژړل

حضرت ابو عبد الله رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چې ما واورېدل چې يو عالم صاحب د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ مخکښې ووئيل: ” خاموشه عالِم

" هم د خبرو کوونکي عالِم پۀ شان وي- وه يې فرمائيل: زما ذهن دا دے چې خبرې کوونکے عالِم به د قيامت پۀ ورځ د چپ اوسيدونکي عالِم نه افضل وي ځکه چې د خبرې کوونکے عالِم نه فائده خلقو ته رسېږي او چپ اوسيدونکي عالِم ته صرف ذاتي فائده رسېږي- هٰغه عالِم صاحب ووئيل: " اے اميرَ المُؤمِنينه! آيا تاسو د خبرو د فتنو نه خبر نۀ يـئ؟ " حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې دا واورېدل نو ډېر زيات يې وژړل- (الصمت ج: 7، ص: 345، قول نمبر: 648) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئ باندې رَحمت وي او د هغوئ پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د حکايت وضاحت

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! زمونږ د بزرګانو احتياطونه او د الله پاک د وېرې جزبه مَرحبا! البته پۀ دې خبره کښې هيڅ شک نشته چې د احتياط کوونکو علمائے دين وعظ او نصيحت کول، شرعي حکمونه بيانول، د مبلغينو د سنتو نه ډک بيان کول، د نېکۍ دعوت ورکول، د خاموشۍ پۀ مقابله کښې ډېر افضل عمل دے- خو د هٰغه عالِم صاحب د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ دربار کښې دا عرض کول چې " آيا تاسو د خبرو کولو د فتنو نه خبر نۀ يـئ؟ " پۀ خپل ځائے صحيح وو او امير المُؤمنين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک د ويرې نه پۀ سلګو سلګو ژړل هم د عالم دين د دې الفاظو بيخ ته د رسېدو پۀ وجه وو- واقعي چې ښې خبرې

کول د مخلوق د پاره ګټه ورې دي خو پخپله د ویوونکي د پاره په دې کښې ډېرې خطرې موجودې دي مثلاً که چرته ښه مبلغ وي نو د خپل ښه بیان او خبرو په روانۍ باندې د نورو خلقو له خوا د مېلاؤېدونکي داد او ډاډګیرنې په وجه یا صرف په خپل صلاحیت د تکبر په وجه یا خپل ځان د " ځه " ګڼلو او د نورو کمتر ګڼلو یا صرف د نفسانیت په وجه په نورو د رُعب غورځولو او د خپلې واه واه په خاطِر د ګرانو یا ښکلو الفاظو او محاورو وئیلو وغېره وغېره په فتنو کښې انښتے شي- که چرې په عربۍ ژبه یې عبور حاصل وي نو په خپلو خبرو او بیانونو کښې د خپلې عربۍ رعب غورځولو او د ډېرو عربۍ متلونو وغېره د استعمال په فتنو کښې اخته کېدے شي، دغه شان که د چا اواز ښه وي نو هغه هم د خطرو سره مخ کېدے شي، ځکه چې خلق اکثر د داسې خلقو تعریف کوي په کومې چې د خوشحالېدو سره د غرور کولو، ښه اواز د الله پاک عطا ګڼلو په ځائے خپل مال ګڼلو وغېره غلطیانو وِېره وي- نو د هٰغه عالِم دین د " خبرو کولو " په باره کښې خبردارے صحیح دے او واقعي چې کوم مبلغ بیان کړے شوي بد صفتونه لري د هغه خبرې کول په خپل حق کښې ډېره لویه فتنه او د اخرت د بربادۍ ذریعه ده که مخلوق ته د هغې نه فائده ولې نۀ رسېږي-

د متاثره کولو د پاره د خبرو مختلف اندازونه خپلول

خلق د خپل ځان نه د متاثره کولو د پاره (په خاص قسم) خبرې راجوړول او داسې هغه خپل عقیدت مند جوړول ډېر زیات غلط کار دے، اوس چې کوم حدیث شریف بیانولے شي د هغې نه دې هغوئي سبق واخلي کوم

چې په ظاهره نېک هم وي خو هر وخت " زۀ ، زۀ " کوي او خلق په خپل ځان د مئینولو کوشش کوي-

د حضرت ابو هُریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے، د مدینے سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: " چا چې د خبرو کولو مختلف اندازونه د دې د پاره زده کړل چې د هغې په ذریعه د خلقو زړونه قید کړي (یعنې خلق خپل عقیدت مند جوړ کړي)، الله پاک به د قیامت په ورځ نۀ د هغۀ فرض قبلوي او نۀ نفل-" (ابوداؤد، ج:4، ص:391، حدیث:5006)

مفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حدیث مبارک په وضاحت کښې فرمائي: یو مضمون په مختلفو عبارتونو سره بیانول، نښه عبارت وئیل، د دروغو خبره رښتونې ښکاره کول یعنې کوم عالم چې ډېرې پېچیده خبرې خوندور تقریرونه کول دې د پاره زده کړي چې خلق د هغه په جال کښې راګېر شي، خلق د هغه عقیدت مند جوړ شي- (مرآت، ج:6، ص:439)

خبرې هم ډېرې، خطاګانې هم ډېرې

د قرټن ګس په دروغو، غیبت، چغلۍ، خلقو ته د کنځلو کولو وغیره وغیره په ګناهونو کښې د اخته کېدو خطره ډېره وي- دغه شان د مالداره ګس د زیات دولت په وجه په ظلم، تکبر وغیره ګناهونو کښې د پرېوتو خطره وي- حضرت سیِّدُنا حَسَن بَصري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي چې ﴿1﴾ د چا چې

خبرې زياتې وي د هغه به غلطياني هم زياتې وي ﴿2﴾ د چا چې مال زيات وي د هغه به ګناهونه هم زيات وي او ﴿3﴾ د چا چې اخلاق خراب وي هغه به پۀ عذاب کښې اخته کېږي- (تنبیہ الغافِلین، ص:117)

چې څنګه سفر وي نو هٰغه شان د سفر سامان هم پکار وي

مشهور صحابي حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو ځل د کعبې شريفې سره ولاړ وو او فرمائيل يې: څوک چې ما پېژني هغه خو مې هسې هم پېژني او څوک چې مې نۀ پېژني هغوئ دې ځان پوهه کړي چې زۀ جُندُب بن جُناده ابوذَر غِفاري [رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ] يم، د يو همدرده او مهربانه مسلمان ورور خوا له راشئ! خلق يې خوا ته راجمع شول- نو وه يې فرمائيل: پۀ تاسو کښې چې څوک د يو سَفار د سفر کولو اراده کوي نو د سفر د سامان نه بغېر سفر نۀ کوي نو هٰغه ګس څنګه دے کوم چې د اخرت سفر بغېر د سفر د سامان نه کول غواړي؟ خلقو پوښتنه اوکړه اے ابوذره [رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ]! مونږ له د سفر څۀ سامان پکار دے؟ وه يې فرمائيل: " د شپې پۀ تيارۀ کښې دوه رکعَته نـمونځ د قبر د وېرې نه د بچ کېدو د پاره، او د سختې ګرمۍ روژې نيول د قيامت د ورځې د پاره او پۀ غريبانو باندې صدقه کول چې دغه شان تاسو د سختې ورځې د عذاب نه خلاصے ومومئ او د نورو لوئي لوئي امورو د پاره حَج کول- دنيا پۀ دوۀ حصو کښې تقسيم کړئ، يوه حصه د دنيا حاصلولو د پاره او بله حصه د اخرت حاصلولو د پاره- د دې نه علاوه دريمه حصه جوړول مضره يعني نقصان والا ده، ګټه وره نۀ، دغه

شان خپلې خبرې هم دوه قسمه جوړې کړئ ، یو هغه چې ستاسو پۀ دنیا کښې پکار راشي ،دویم هغه چې ستاسو پۀ اخرت کښې پکار راشي او دریم قسم مضر(نقصاني)دي،فائده ناکې نۀ دې-" بیا یې وفرمائیل:" آه! زۀ د هٰغې ورځې غم هلاک کړم د کومې چې ما سره څۀ علاج نشته-" عرض اوکړے شو: هغه کومه (ورځ) ده؟ وه یې فرمائیل: " زما امېدونه زما د عمر نه هم زیات شول او زۀ د خپل عمل نه غافِله شوے یم-"

(تنبیه الغافِلین: ص:118)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حضرت ابوذر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ډېرې پرهېزګارۍ باوجود د خپل ځان باره کښې عاجزي کوي او فرمائي چې " زۀ د خپل عمل نه غافِله شوے یم-" نو بیا به زمونږه څۀ کېږي؟ چې مونږ خو څۀ نېکي هډو کوو نۀ او که چرې مات ګوډ عبادت مو اوکړو نو هم شېطان پۀ زړۀ کښې دا خبره را واچوي چې تۀ ډېر نېک یې تۀ شریف انسان یې او د شېطان پۀ خبرو کښې د راتللو سره مونږ هم پۀ دې خوش فهمۍ کښې اخته شو چې آؤ واقعي زۀ نېک انسان یم- د دې واقعې نه خاص طور مونږ له د عاجزۍ او انکسارۍ سبق حاصلول پکار دي چې که مونږ هر څومره هم نېک کارونه اوکړو نو ځان ګنهګار ګڼل پکار دي-

پۀ کور کښې د سنتو ډک ماحول جوړولو کښې د خاموشۍ کردار

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د بے ضرورته خبرو، ټوقو ټقالو او د بد زبانۍ عادتونو پرېښودلو سره کور کښې هم ستاسو عزت زیاتېږي او چې کله د کور خلق ستاسو د سنجیده کېدلو نه متاثره وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د هغوئ پۀ

زړۀ به ستاسو د " نېکۍ دعوت " زر اثر کوي او پۀ کور کښې به د سنتو ډک ماحول جوړولو کښې اساني شي- نو د دعوتِ اسلامي د سنتو نه ډکې اجتماع کښې د خاموشۍ اهمیت څۀ ښکاره شو یو د سنتو نه ډک بیان اورېدو سره اَلْحَمْدُ لِلّٰه الکریم یو ډېرې خبرې کوونکي اِسلامي ورور د خاموشۍ عادت خپلول شروع کړو، سُبْحٰنَ الله! د دې هغه ته فائده رسېدل هم شروع شو، د " ابو الفضول " کېدلو پۀ وجه د کور خلق د هغه نه بدګمانه وو خو چې د کله نه یې خاموشي خپله کړې ده، کور کښې د هغه " پوزیشن " جوړ شوے دے او خاص طور د هغه مور بې بې کومه چې به د هغه نه بېزاره وه اوس خوشحاله ده، ځکه چې مخکښې د هغه د ډېرو خبرو کولو عادت وو ځکه به د هغه ښه خبرې هم بے اثره کېدلې خو اوس چې کله هغه مور بې بې ته څۀ سنت وغېره وائي نو هغه یې ښۀ پۀ خوشحالۍ سره اوري هم بلکې د عمل کولو کوشش پرې هم کوي-

بڑھتا ہے خموشی سے وقار اے مرے پیارے
گھر والے بھی ہو جائیں گے خوش آپ سے سارے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د غېر ضروري پوښتنو افتونه

سیِّدُنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ بے فائدې خبرو کښې ستاسو د چا نه د غېر ضروري څيز پۀ باره کښې پوښتنه کول

هم دي او د داسې پوښتنې کولو سره به تاسو خپل وخت هم خراب کړئ او نور به د جواب ورکولو پۀ ذريعه پۀ وخت خرابولو مجبوره کړئ او دا هم هٰغه وخت دي چې کله پۀ پوښتنه کولو کښې څۀ افت نۀ وي ځکه پۀ زياترو پوښتنو کښې عموماً افتونه وي- مثال طور تاسو د چا نه د عبادت پۀ باره کښې پوښتنه کوئ چې آيا تاسو روژې نيسئ؟ که چرې هغه پۀ آؤ کښې جواب درکړو نو د خپل عبادت اظهار کوونکے شو او داسې هغه پۀ ريا کښې پرېوتے شي- که چرې هغه پۀ ريا کښې پرې نه وځي نو بيا به هم د هغه عبادت د (پټ) عبادت د رجسټر نه خارج شي او پټ عبادتونه، د ښکاره عبادتونو نه ډېرې زياتې درجې فضيلت لري او که چرې هغه ووائي چې نه نو دروغ به وائي او که چرې هغه خاموشه شي نو هغه ستا کم تر کٹلو والا شو او پۀ دې وجه به تا ته تکليف دررسې او که هغه پۀ جواب درکولو کښې د اخوا دېخوا نه کار اخلي نو هغه ته تکليف برداشت کول وي نو تا د يوې پوښتنې پۀ وجه هغه د ريا يا دروغو وئيلو يا کم تر کٹلو يا جواب کښې د اخوا دېخوا نه پۀ کار اخستو کښې راوستو-

هم داسې ستا د هغه نه د نورو عبادتونو پۀ باره کښې پوښتنې کول او دغه شان ګناه او د هر هٰغه څيز پۀ باره کښې پوښتنه کول دي کومې چې هغه د خلقو نه پټوي او پۀ وئيلو يې شرمېږي- دغه شان که څوک د بل چا سره خبرې کوي او د خبرو نه پس تۀ د هغوئ نه پوښتنه اوکړې چې تاسو

څۀ وئيل او د څۀ پۀ باره کښې مو خبرې کولې؟ او هم داسې پۀ لاره کښې تاسو د يو ګس ليدو سره د هغه نه معلوموئ چې تاسو د کوم ځائے نه راغلئ؟ نو بعضې وخت څۀ داسې خندِ [يعنې رکاوټ] رامخې ته شي کوم چې هغه د وئيلو نه منع کوي او که چرې بيانوي يې نو هغه پرېشانه کېږي او شرم ورځي او که رښتيا نۀ وائي نو پۀ دروغو کښې پرېوځي د کومې سبب چې تۀ جوړېږي- هم داسې که تاسو د څۀ مسئلې پوښتنه کوئ د کومې چې تاسو ته حاجت نۀ وي او د چا نه چې پوښتنه شوې وي نو بعضې وخت د هغه نفس لَااَدرِی (يعنې ما ته پته نشته) پۀ وئيلو نۀ رضا کېږي او داسې هغه د معلوماتو نۀ لرلو باوجود جواب درکوي- (د غېر ضروري پوښتنو مثالونه مخکښې راروان دي) (احیاءُ العلوم، ج:3، ص:140)

د سيِّدُنا لُقمانِ حکيم رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه حِکمت

سيِّدُنا لُقمانِ حکيم رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه ته عرض اوکړے شو: ستاسو حِکمت څۀ دے؟ ارشاد يې وفرمائيلو: ”د کوم څيز چې ما ته ضرورت نۀ وي پۀ هغې باره کښې پوښتنه نۀ کووم او کوم څيز چې ما له فائده نۀ راکوي پۀ هغې کښې نۀ پرېوځم-“ (احیاءُ العلوم (اردو) ج:3، ص:345)

خاموشي دانائي ده (واقعه)

د بے فائدې خبرو نه زما مراد داسې قسمه پوښتنې نۀ دي ځکه چې د دې نه خو ګناه يا نقصان رسېږي- د بے فائدې خبرو مثال هٰغه روايت دے کوم چې د حضرت سيِّدُنا لُقمانِ حکيم رَحْمَۃُاللهِ عَلَيْه پۀ باره کښې بيان شوے دے-

د الله پاک خوږ نبي حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کښې يو ځل حضرت لقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حاضر شو، هُغه وخت حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام زِغره (کومه چې په جنګ کښې اچولے کېدله) جوړوله او لقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې نه مخکښې زِغرَه نۀ وه ليدلې ځکه د دې ليدو سره حېران شو او په دې باره کښې يې پوښتنه کول غوښتل نو د " حِکمت " په وجه يې پوښتنه اونکړه- چې کله حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د زِغرَې جوړولو نه وزګار شو نو ودرېدلو او هغه يې واچوله او ارشاد يې وفرمائيلو: " د جنګ د پاره زِغرَه څومره ښه څيز دے-" دې اورېدو سره حضرت لُقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: " خاموشي حِکمت دے خو د دې اختياروونکي کم دي-" يعني د پوښتنې کولو نه بغېر د هغې په باره کښې عِلم حاصل شو او د پوښتنې کولو حاجت پاتې نۀ شو- (احیاءُ العلوم (اردو) ج:3، ص:347، احیاءُ العلوم، ج:3، ص:141)

بے فائدې خبرې څۀ ته وئيلے شي؟

سيِّدُنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بيان کړے شوي دي چې حضرت لُقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو کاله پورې د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام په دربار کښې په دې ارادې سره حاضرېدلو چې د هغوئ نه د زغرې په باره کښې د پوښتنې کولو نه بغېر معلوم کړي- دا او داسې قسمه پوښتنو کښې چې کله نقصان او عېب څرګندېدل نۀ وي او ريا او دروغو کښې

اخته کېدل نۀ وي نو دا بے فائدې خبرې شوې او د دې پرېښودل د اسلام د خوبۍ نه دي- دا د بے فائدې خبرې تعريف وو- (احیاءُ العلوم (اردو) ج:3، ص:347)

د حضرت لُقمانِ حکیم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ پۀ باره کښې معلومات

د حضرت لُقمانِ حکیم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ شان ډېر اوچت دے، د قرآنِ کریم پۀ 21 سیپاره کښې د هغوئي پۀ نوم یو پوره سورت د " سورۃِ لُقمٰن " پۀ نوم سره موجود دے- الله پاک د سورۃِ لُقمٰن پۀ 12 نمبر آیت کښې د لُقمان حکیم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ حِکمت بیانوي او فرمائي:

وَ لَقَدْ اٰتَیْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ اَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِؕ وَ مَنْ یَّشْكُرْ فَاِنَّمَا یَشْكُرُ لِنَفْسِهٖۚ وَ مَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ حَمِیْدٌ(۱۲)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه مونږه لُقمان ته حِکمت ورعطا کړو چې د الله شکر ادا کړه، او څوک چې شکر ادا کړي نو هغه د خپل ذات د پاره شکر کوي، او څوک چې نا شکري اوکړي نو بے شکه الله بے پرواه دے، د حمد لائق دے-

لُقمانِ حکیم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ څوک وو؟

پۀ صِراطُ الـجنان جلد 7، صفحه 483 باندې دي: حضرت وَهب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې حضرت لُقمان رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د حضرت ایُّوب عَلَیْہِ السَّلَام خوریے وو خو د (قرآنِ کریم) مُفَسِر مَقاتِل (رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ) وئیلي دي چې د حضرت ایُّوب

عَلَيْهِ السَّلَام د ترور ځوي وو- هغوئي د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام پۀ زمانه کښې وو او د هغوئي نه يې علم حاصل کړو- د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د نُبوَّت د اعلان نه مخکښې به يې فتوې ورکولې او کله چې هغوئي (يعنې حضرت داؤد) عَلَيْهِ السَّلَام د نُبُوَّت پۀ منصب فائز شو (يعنې د نُبُوَّت اعلان يې اوکړو) نو حضرت لقمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فتوې ورکول پرېښودې- د حضرت لُقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ نبي کېدلو کښې اختلاف دے، زياتره عُلَمائے کرام پۀ دې طرف دي چې هغوئي حکيم (يعنې صاحِب د حِکمت او پوهې) وو نبي نۀ وو-

(تفسير بغوي، ج:3، ص:423، تفسير، مدارک، ص:977)

حضرت لُقمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د جنّت پۀ سردارانو کښې دے

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهما نه روايت دے،چې تاجدارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: " د سوډانيانو صحبت اختيار کړئ ځکه چې پۀ دوئي کښې درې د جنتيانو د سردارانو نه دي: ﴿1﴾ حضرت لُقمانِ حکيم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ، ﴿2﴾ حضرت نجاشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ، ﴿3﴾ مُؤَذِّنِ (رسول) حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ -" (معجم کبير، ج:11، ص:158، حديث:11482)

د حِکمت 4 تعريفونه

د حِکمت ډېر تعريفونه دي پۀ هغې کښې پۀ " صِراطُ الـجنان " جلد 7 صفحه 484 کښې دا څلور بيان کړے شوي دي: ﴿1﴾ حِکمت عَقل او پوهې ته وائي ﴿2﴾ حِکمت هٰغه علم دے چې د هغې مطابق عمل اوکړے

شي ﴿3﴾ حِکمت مَعرِفت (یعنې پېژندنې) او په کارونو کښې مضبوطی ته وئیلے شي ﴿4﴾ حِکمت داسې څیز دے چې الله پاک یې د چا په زړۀ کښې کېږدي نو دا د هغه زړۀ روښانه کوي- (تفسیر خازن، ج:3، ص:470)

حضرت لُقمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د طِب (یعنې علاج) هم حکیم وو

حضرت علامه اسماعیل حقّي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په " روحُ البیان " کښې لیکلي دي: حضرت لُقمانِ حکیم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د طِب او حقیقي علم او حِکمت حکیم وو- (تفسیر روح البیان، ج:7، ص:73)

په واش روم کښې د ډېرې ناستې نقصانونه

حضرت عِکرمه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بیانوي: د هغوئ آقا استنجاخانې(ټائلټ) ته لاړو نو ډېر وخت یې پکښې تېر کړو، حضرت لُقمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اواز ورکړو: دلته د ډېرې ناستې سره ځیګر ته نقصان رسېږي او د بواسیرو مرض پیدا کېږي او ګرمي سر ته خېژي، لږ ساعت په اسْتِنجا خانه کښې کښېنه او ځان زر فارغوه- د حضرت لُقمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دا نُسخه ولیکلے شوه او په دروازه ولګولے شوه-

که ژبه او زړۀ خراب شي نو بیا-----

د حضرت لقمان حکیم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه آقا ووئیل: چېلی حلاله کړئ او د هغې د ټولو نه بهترینې دوه حصې راوړئ، هغوئ ژبه او زړۀ راویستو او اوئې وړلو-

څو ورځې پس د هغوئ آقا هغوئ ته بيا ووئيل: چېلی حلاله کړئ او د هغې د ټولو نه بد ترينه حصې راوړئ، هغوئ بيا ژبه او زړۀ حاضر کړلو، د آقا پۀ پوښتنه کولو حضرت لُقمان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه وفرمائيل: که چرې ژبه او زړۀ صحيح وي نو هر څۀ ښه دي او که چرې دا خراب شي نو د دې نه خراب څيزونه نور نشته- (تفسيرِ طبري، ج:10، ص:209)

د فضول پوښتنو مثالونه

❁ بغېر د ضرورت نه پوښتنه کول: دا مو پۀ څو واخستو؟ هغه پۀ څو مېلاؤ شو؟ پۀ فلانکي ځائے کښې د پلاټ څۀ نرخ چلېږي؟ ❁ که د چا کور ته تلل وي يا چا نوے کور واخستو نو پوښتنه کول دا مو پۀ څو واخستو؟ څو کمرې دي پکښې؟ کرايه يې څومره ده؟ د کور مالک څنګه دے؟ (د کور د مالک پۀ باره کښې پوښتنه بعضې وخت **مَعَاذَاللهِ!** د غيبت او تهمت د دروازو برسېره کولو سبب جوړېدے شي مثلاً کله څۀ داسې د ګناهونو ډک جواب هم مېلاؤېدے شي: زمونږ د کور د مالک مزاج ډېر سخت، بے رحمه، کوږ، فسادي، کنجوس دے) وغېره وغېره ❁ د ملاقات کوونکي نه پوښتنه کول: ستا څو بچي دي؟ د مشر ځوي (يا لور) عمر دې څومره دے؟ د هغوئ کوټړدن (يا وادۀ) دې کړے دے که نۀ؟ ❁ داسې چې څوک نوے دکان، ګاډے يا سکوټر وغېره واخلي نو بے وجې د اخستونکي نه د هغې د نرخ، مضبوطۍ، نقد، قرض، قسطونو وغېره پۀ باره کښې پوښتنې کول ❁ مريض څوک چې خبرې قدرې نشي کولے د هغه نه د تپوس کوونکي بے

ضرورته قسما قسم پوښتنې او د دوايانو وغېره پۀ باره کښې تفصيل معلومول او که چرې اپريشن شوے وي نو د زخمونو د ټکونو د شمېرې پورې پوښتنه کول، د دې پورې چې (د شرم د ځائے) مسئله وي نو بيا هم بعضې خلق د هغې پۀ باره کښې پوښتنې کوي او نۀ شرمېږي- پۀ داسې قسمه فضولياتو کښې زنانه هم د سړو نه وروستو نه پاتې کېږي ❁ د ګرمۍ يا يخنۍ پۀ موسم کښې د دې د کمې يا زياتې پۀ موقع بے ضرورته داسې خبرې کول مثلاً د ګرمۍ پۀ موسم کښې د بعضې ابو الفضول " اُف! اُف " کولو سره داسې وئيل: يو خو نن سبا ډېره زياته ګرمي ده او د دې د پاسه بجلي هم بيا بيا ځي ❁ داسې پۀ يخنۍ کښې د اداکارۍ سره د جامو ګڼۀ ډو سره وئيل: نن خو سمه ډېره يخي ده ❁ که چرته د باران موسم دے نو بے ضرورته پۀ هغې هم تبصره کول: مثلاً نن سبا خو بارانونه ډېر کېږي، هر خوا اوبۀ ودرېدلي دي، انتظاميه د څټو د صفايۍ هډو خيال نۀ ساتي وغېره وغېره ❁ داسې پۀ ملکي او سياسي حالاتو د اصلاح د نيت نه بغېر بے ځايه تبصرې، پۀ مختلفو سياسي ډلو بې وجې تنقيدونه ❁ که د يو ښار يا د يو ملک سفر مو کړے وي نو د هغه ځائے د غرونو او شينکي غېر ضروري نظارو ښودلو، کورونو او سړکونو تفصيل بے ضرورته بيانول وغېره وغېره چې دا ټولې فضول خبرې نۀ دي نو نور څۀ دي؟ البته دا ياد ساتئ چې د فضول خبرو چې کوم مثالونه ورکړے شو د دې مطابق که چرې مونږ څوک پۀ خبرو کولو ومونځو نو چې خپل ځان د بد ګمانۍ نه بچ کړو ځکه چې بعضې وخت کومې خبرې مونږ ته فضول ښکاري هغه بيانوونکے د څۀ صحيح مقصد لاندې کوي چې له وجې يې هغه فضول نۀ پاتې کېږي-

مُباح څیزونه (یعنې پۀ کومو کښې چې نۀ ثواب وي او نۀ ګناه) پۀ ښه نیت سره کول د ثواب کار جوړ شي۔

د فضول خبرو کوونکي د مبالغې نه بچ کېدل ګران دي

دا پۀ ذهن کښې ساتئ چې فضول خبرې کول ګناه نۀ ده خو فضول خبرې پۀ داسې حالت کښې فضول وي چې د کمې زیاتې نه بغېر 100 فیصده صحیح صحیح اوکړے شي۔ د پریشانیِ خبره دا ده چې داسې قسمه خبرې پۀ تول صحیح بیانول چې د " فضول " د حد نه زیاتې نشي ډېر ګران کار دے، بعضې وخت د دروغو مبالغه (یعنې د اصل خلاف د حد نه زیات بیانولے) کېږي، کله نا کله فضول خبرې کوونکے د غېبتونو، تهمتونو او د زړۀ ازارولو وغېره پۀ ډنډه کښې هم انښلي۔ ځکه خبر پۀ چپ پاتې کېدو کښې دے ولې چې "ایک چھپ سو سکھ [یو چپ سل خوشحالئ]۔

پۀ علاقه کښې دیني ماحول جوړولو کښې د خاموشیِ کردار

یو اسلامي ورور د "دعوتِ اسلامي " د سنتو نه ډکه اجتماع کښې د خاموشیِ پۀ باره کښې د سنتو نه ډک بیان اورېدو نه مخکښې د دیني ماحول سره تعلق لرلو خو بیا یې هم فضول خبرې کولې، د زیات درود شریف لوستلو یې هم څۀ خاص ترکیب نۀ وو۔ چې هغه د چپ پاتې کېدو کوشش شروع کړو نو، هره ورځ 1000 ځله درود شریف لوستل یې نصیب شو، د دې نه مخکښې به د هغه قیمتي وخت پۀ اخو دېخوا خبرو کښې خرابېدو۔

هغه پۀ دولسو ورځو کښې د لوستلے 12 زره ځلو درود شریف ثواب ما (سګِ مدینه) ته ډالۍ کړو (یعنې ثواب یې ماته را اوبخښلو)- د هغه د قړتن مزاج له وجې د ګډو وډو خبرو سپېرۀ والي نه ذیلي حلقه کښې د دعوتِ اسلامي دیني کار ته هم نقصان رسېدلو- تېرو ورځو کښې د هغه پۀ حلقه کښې پۀ خپل مینځ کښې د اختلاف ختمولو د پاره مدني مشوره وشوه، د ډېرې حېرانتیا خبره ده چې د هغه د خاموشۍ پۀ وجه اَلْحَمْدُلِلّٰه الکریم ټوله جګړه پۀ اسانۍ سره ختمه شوه- د هغه " نګران " د خوشحالۍ اظهار کولو سره پۀ بے تکلفۍ کښې څۀ داسې وفرمائیل: " زۀ ډېر وېرېدم چې کېدے شي تاسو بحث شروع کړئ او خبره خرابه شي خو ستاسو د خاموشۍ نعمت مونږ ته راحت راکړو-" اصل کښې خبره دا ده چې د دې نه مخکښې به د دۀ د فضول بحث او د ډېرو خبرو کولو د بد عادت لرلو پۀ وجه د " مدني مشورې " وغېره ماحول خرابېدلو-

د دیني کارونو د پاره مدني وسله

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! تاسو وکتل؟ چې د فضول خبرو نه بچ کېدل د دیني کارونو د پاره هم څومره ګټه ور څیز دے، لهذا چې څوک د سنتو مبلغ دے هغوئ له خو خاص طور پۀ هر حال کښې سنجیده او کمې خبرې کوونکي کېدل پکار دي- څوک چې ډېرې خبرې کوونکے، قړتن، د نورو خبره کټ کوونکے، بیا بیا د خبرو پۀ مینځ کښې خبره کوونکے،

پۀ هره خبره باندې بحث کوونکے او د " خبرې نه څرمن " اړوونکے وي د هغه پۀ وجه د دين کار ته د نقصان رسېدو اندېښنه وي، ځکه چې خاموشي کومه چې د شېطان د تښتولو " بهترينه " وسله ده د هغې نه دا قړتن ګس محرومه دے- حضرت ابوذر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته د وصيت کولو سره مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: " پۀ ځان باندې د خاموشیِ کثرت [زياتوالے] لازم کړه چې د دې نه به شېطان دفع کېږي (يعنې تښتي) او تا ته به د دين پۀ کارونو کښې مدد مېلاؤېږي-"

(شُعب الایمان، 4، ص: 242، حدیث: 4942)

اللہ اس سے پہلے ایماں پہ موت دیدے

نقصاں مرے سبب سے ہو سنّتِ نبی کا

(وسائلِ بخشش، ص: 178)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د راتلونکي هفتې رساله



فیضانِ مدینہ، محلّہ سوداگران، زیرہ سبزی منڈھی کراچی
UAH +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net